# مسیر

ورځپاڼه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

چهارشنبه د ۱۳۹۸ د سلواغې دویمه | د ۲۰۲۰ د جنورۍ ۲۲مه | ۵۰۱مه ګڼه


# د تاوتریخوالي کمول که اوربند؛

## طالبان: یوازې د بهرنیو عسکرو د وتلو لپاره تاوتریخوالی کموو



۳


سوله او د ټاکنو نامعلوم برخلیک
۲ مخ

د ملي یووالي حکومت پر مهال په افغانستان کې د روسانو لېوالتیا او ستراتیژي
۲ مخ

ټرمپ ګټه کړې که تاوان؟
۳ مخ


## کتاب

۴ مخ

### فردي نظم




د بریالیتوب لومړی اصل دېر اسانه دی: «ځان د پلمو له ټابو څخه وباسئ!» پلمې مه کوئ! یا یو کار وکړئ، یا یې بېخي مه کوئ، خو پلمې ورته مه لټوئ. خپل ښایسته ماغزه د دغو پلمو او توجیو لپاره مه کاروئ، چې تاسې دا کار ولې نه کوی، یوځه وکړئ، هر هغه څه وکړئ چې کولای یې شی، ځان ته دا خبره تکرار کړئ چې : «که کار کوم، زه به یې کوم!»

## مالیې وزارت: روان میلادي کال به د ټاپي پروژې عملي چارې پیل شي



مالیې وزارت ویلي، ټاکل شوې چې د ټاپي پروژې عملي چارې د ۲۰۲۰ میلادي کال په لومړیو میاشتو کې له هرات ولایت څخه پیل شي.

د دغه وزارت ویاند شمروز خان مسجدي ویلي چې د ټاپي پروژې د ځمکو د استملاک قانون مسوده هم چمتو شوې ده.

هغه زیاته کړې: «د دې پروژې عملي کار به د هرات نه د ۲۰۲۰ م کال په لومړیو او یا وروستۍ ربعه کې پیل شي، دا د افغانستان لپاره یو مهم خبر دی، د افغانستان دولت هم خپل چمتووالی نیسي چې څنګه خپل کارونه پیل کړي».

مسجدي ویلي چې د مالیې وزارت سرپرست محمد همایون قیومي د ټاپي ګازو نللیکې پروژې له اجرایوي رییس محمد مراد امانوف سره په کتنه کې ویلي، چې د ځمکو استملاک مدیریت د قانون مسوده چمتو شوې او عدلیې وزارت ته لېږل شوې چې ژر به د تصویب لپاره پارلمان ته ولېږل شي.

## راضو خان: چهار عضو خانواده ام در عملیات نیروهای امنیت ملی کشته شده اند



راضو خان باشنده ولسوالی نادر شاه کوت ولایت خوست ادعا دارد که چهار عضو خانواده اش در یک عملیات نیروهای امنیت ملی در خوست کشته شده اند و یک برادرش نیز از سوی ریاست امنیت ملی بازداشت شده است.

او که برای دادخواهی به کابل آمده است، می گوید که نیروهای امنیت ملی یازده ماه پیش، شب هنگام به خانه اش حمله کردند و در کنار دو برادرش یک زن و یک کودک را نیز به گلوله بستند.

از سوی دیگر یافته های کمیسیون مستقل حقوق بشر نشان می دهند که در حمله هوایی نزدیک به دو هفته پیش نیروهای خارجی در شیندند، پانزده غیرنظامی کشته و زخمی شدند.

راضو خان می گوید که یازده ماه پیش چهار عضو خانواده اش به شمول دو برادر، خانم برادرش و برادر زاده چهار ساله اش در یک عملیات شب هنگام نیروهای امنیت ملی کشته شده اند و ریاست امنیت ملی برادر دیگر او را بازداشت کرده است.

او که از ولسوالی نادرشاه کوت خوست برای دادخواهی به کابل آمده است، می گوید، اگر سرنوشت برادرش روشن نشود و به عدالت دست نیابد، خودش را آتش خواهد زد.

راضو خان گفت: «حکومت باید جواب بدهد که به این خاطر تو بازداشت شدی و به این خاطر برادرانت را در خانه ات شهید کردیم و اگر جواب نمی دهد، من خودم را در خانه ام آتش می زنم که حکومت از من خلاص شود».

ریاست امنیت ملی می گوید که برادر راضو خان به اتهام تلاش برای ترور و پیوند داشتن با طالبان بازداشت شده است.

## د ۱۳۹۹ مالي کال په بودجه کې اړینې اړتیاوې په پام کې نه دي نیول شوې



۵ مخ

## ګروسمن: که د سولې تړون لپاره قوي ضمانت رامنځ ته نه شي، په افغانستان کې ثبات ناممکن دی

د افغانستان لپاره د امریکا پخواني ځانګړي استازي مارک ګروسمن ویلي، که د امریکا او طالبانو تر منځ د لاسلیک کېدونکي توافق په برخه کې قوي ضمانتونه رامنځ ته نه شي، د افغانستان له ثبات سره هېڅ مرسته نه شي کولای. هغه له امریکا غږ سره په مرکه کې ویلي، له تضمین پرته د سولې هوکړه د کاغذ یوه ټوټه ده او هېڅ مانا نه لري.

نوموړي زیاته کړې، امریکا له طالبانو سره خبرې پر احتیاط مخ ته وړي؛ ځکه که داسې نه وای، ممکن دغه توافق د تېر کال په جنورۍ کې لاسلیک شوی وای.

ګروسمن زیاته کړې: «زه فکر کوم چې څوک له طالبانو سره د عجولانه توافق غوښتونکي نه دي، که امریکا دا کار کولای، نو د تېر کال په جنورۍ کې به یې کړی و، بله دا چې د سولې دا توافقنامه د کاغذ یوه ټوټه ده چې د افغانستان د ثبات لپاره هېڅ تضمین نه لري، دا افغانان دي چې باید په دې برخه کې کار وکړي».

دغه پخواني امریکایي چارواکي ویلي، د طالبانو له لوري د تاوتریخوالي د راکمېدو پرېکړه مهم پرمختګ دی، خو دغه ډله ځکه له اوربنده انکار کوي چې هغوی پر ټولو جنګیالیو کنټرول نه لري.

هغه زیاته کړې: «دا چې اوس طالبانو د تاوتریخوالي کمېدو ته رضایت ښودلی، مهم پرمختګ دی. د اوربند په تړاو باید ووایم چې هغوی پر خپلو جنګیالیو بشپړ کنټرل نه لري، ځینې یې په دوحه او ځینې یې په افغانستان کې دي، بله دا چې طالبان له حکومت سره خبرې نه کوي، نو په داسې یوه وضعیت کې د سرتاسري اوربند عملي کېدل ستونزمن دي».




Aksos

اکسوس کتابپلورنځی

Aksos Book Store

Add a book to your life

دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ

0798-98-9696, 0202504652

aksosbookstore@gmail.com

www.aksosbookstore.af

Aksos Book Store

Aksos Book Store

## دریـــغ

### سوله او د ټاکنو نامعلوم برخلیک

په قطر کې د طالبانو او امریکا تر منځ د سولې په خبرو کې د پرمختګ خبرونه ورکول کېږي. ویل کیږي چې امریکا د طالبانو له خوا د تاوتریخوالي د کموالو طرحه منلې ده. د دواړو اړخونو له لوري د سولې هوکړه وروستۍ شوې ده او اوس یوازې پر دې خبرې روانې دي، چې هوکړه لیک به چېرته، څه وخت او څه ډول لاسلیک کېږي. د طالبانو او امریکا تر منځ خبرې به لا هم روانې وي. دواړه لوري د پرمختګ خبرې کوي، خو د پرمختګ د جزیاتو په اړه رسنیو ته رسمي څه نه وایي. څه چې محسوس دي، هغه د سولې په خبرو کې پرمختګ دی.

د سولې په خبرو کې د پرمختګ له خبرونو سره اوس دا پوښتنه ده چې د تېرو ولسمشریزو ټاکنو د پایلو برخلیک به څه ډول وي؟

پرون د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون وویل چې لا یې هم د دریو سوو زرو لانجمنو رایو په تړاو پرېکړه نه ده کړې، چې په دې ډول اساسي لانجه پر خپل حال پاتې ده. د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون کارونه له مهالوېش سره سم مخکې نه ځي او په دې برخه کې خنډونه شته. له یوه اړخه په کمېسیون کې داخلي اختلافات پیدا شوي او له بله اړخه یې د ټاکنو له کمېسیون سره ستونزه ده. تر دې مهمه دا چې د کمېسیون غړي تر ژور فشار لاندې ښکاري. اوس دغه حالت ته په کتو سره اټکل دی چې د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون کار به لا زیات وخت واخلي او وروستۍ پایلې به ډېرې وځنډېږي. د وروستۍ پایلو ځنډ او نامعلوم برخلیک هغه څه دي چې په قطر کې له خبرو او پرمختګونو سره مرسته کوي او داسې ښکاري چې دا هر څه د همغه لپاره ډیزاین شوي دي. که په قطر کې د طالبانو او امریکا تر منځ خبرې اوږدېږي، نو د ټاکنو وروستۍ پایلې به نورې هم ځنډېږي. که طالبان او امریکا هوکړه لاسلیک کوي، نو دلته به هم بدلون راځي او اټکل دی چې د هوکړې له لاسلیک وروسته به دویم پړاو ته د ټاکنو د تګ اعلان کېږي. په دې ډول د اوسني حکومت کار دوام کوي. حکومت به د دویم پړاو ټاکنو خبرې کوي، خو سیاسي تحولات او د سولې هوکړه به هر څه بدل کړي. ورو ورو به د انتقالي حکومت لپاره هڅې پیل شي او څو میاشتې وروسته به اوسني چارواکي مجبور شي چې خپل ځای انتقالي حکومت ته پرېږدي. دا هغه څه دي چې په اړه یې ویل کېږي او په ټاکنو او سوله کې بدلون هم له دې تحلیل سره مرسته کوي.

د افغانستان او افغانانو د خیر لپاره موږ باید نور د ټاکنو دوسیه وتړو او نوو بدلونو ته ځان تیار کړو. د امریکا او طالبانو تر هوکړې وروسته موږ باید په شدت سره د افغانانو د خپلمنځي جوړجاړي هڅې وکړو. هسې نه چې امریکایان به ووځي، خو موږ به نه جوړېږو او بیا به بهرنیان وایي چې اصلي ستونزه د افغانانو خپله ده. بهرنیان وځي، خو افغانان خپلو منځو کې سره نه جوړېږي. له همدې امله موږ باید د خپلمنځي جوړجاړي لپاره عملي ګامونه واخلو. د خپلمنځي جوړجاړي په برخه کې شرطونه، سرې کرښې او له کرکې ډک دریځونه باید ځای ونه لري او موږ باید له دې موقع ګټه واخلو چې خپل هېواد له دې اوږدې جګړې وباسو.

# د ملي یووالي حکومت پر مهال په افغانستان کې د روسانو لېوالتیا او ستراتېژي (۲۰۱۴-۲۰۱۹)

لیکنه: عمران زکریا

لومړۍ برخه:

**لنډیز**

روسیه په افغانستان کې اوږدمهالې ستراتیژیکې لېوالتیاوې لري، چې په دې کې د هېواد سیاسي ثبات، اقتصادي پرمختګ او د نشه یي توکو مخنیوی دی. په افغانستان کې د مسکو ستراتیژي څه دا رنګه ده، چې له یوې خوا نه غواړي امریکایي ځواکونه په افغانستان کې پاتې شي، خو له بلې خوا بیا دا هم نه غواړي چې بهرني ځواکونه دې له افغانستانه سمدستي او چټک ووځي او په دې توګه ګډوډي شا ته پرېږدي.

په افغانستان کې د روسېې لېوالتیاوو وخت ته په پاملرنې بدلون موندلی دی؛ د سترې لوبې (The Great Game) په اوږدو کې افغانستان د روسیې لپاره د ځمکنۍ پراختیا په پار یو ښه فرصت و. د دوو نړیوالو جګړو او سړې جګړې پر مهال ورته د کابل ناپېیلتوب ارزښت درلود. د دې تر څنګ، د ۲۰ مې پېړۍ په ۱۹۸۰ مه لسیزه کې پر افغانستان د پوځي یرغل تر شا ګرمو اوبو ته رسېدل او په افغانستان کې د خپلو ایډیالوژیکو پلویانو د حکومت باثباته کول د روسانو د لېوالتیاوو نور ډولونه وو.

خو اوسمهال مسکو افغانستان ته نور د یو فرصت په سترګه نه، بلکې د یو داسې هېواد په توګه ګوري، چې له بې ثباتۍ، د بهرنیو ځواکونو له شتون او نشه یي توکو له کرکېلې څخه پاک وي؛ ځکه د مسکو په ګومان د دغو دریو واړو په شتون کې به لومړی منځنۍ آسیا او بیا په دویم قدم کې روسیه اغېزمنه شي.

**کیـلي:** روسیه په افغانستان کې، داعش، افغان- روس اړیکې او د مسکو- افغان سولې پروسه

**سریزه**

له تاریخي پلوه په افغانستان کې بې ثباتي د بهرنیو لاسوهنو او د هېواد او سیمې پر سر د سیالیو له امله ده. په ۱۹مه میلادي پېړۍ کې په افغانستان کې د روسیې ښکېلتیا له برېټانیې سره پر سیالۍ پیل شوه، چې یادې سیالۍ هغه مهال د سترې لوبې Great Game په نوم شهرت درلود.

د ۲۰مې میلادي پېړۍ پر مهال د امریکا او روسیې تر منځ سړه جګړه، چې نړۍ یې پر دوو قطبونو وېشلې وه؛ افغانستان ته یې هم ریښې په ۱۹۵۰مه میلادي لسیزه کې راوغځېدلې او په پای کې د سړې جګړې پر مهال د امریکا او روسیې دغه رقابت هم همدلته پای ته ورسېد. په ۱۹۹۰یمه میلادي لسیزه کې په افغانستان کې د کورنۍ جګړې له کبله روسیې په منځنۍ آسیا کې خپل پوځي حضور پراخ کړ. د دې تر څنګ، د ۱۹۹۰یمې لسیزې په وروستیو کې د روسیې اړیکې له طالبانو سره هغه مهال خرابې شوې، چې کله طالبانو په ۲۰۰۰ ز کال کې په یوه اړخیزه توګه د چېچنیا خپلواکي ومنله.

د طالبانو رژیم له ړنګېدو سره سم، د ۲۰۰۱ ز کال د نومبر په ۲۶مه د روسانو یو ډیپلوماټیک پلاوی کابل ته د ډیپلوماټیک ماموریت پرانیستلو په موخه راغی.

معاصره فدراتیفه روسیه د ولادیمیر پوتین په رهبرۍ په افغانستان کې امنیتي او اقتصادي لېوالتیاوې لري. په ۲۰۰۱ ز کال کې د امریکا متحده ایالتونو په رهبرۍ پر افغانستان تر برید وروسته، روسیه په کمه کچه په افغانستان کې د امریکا له متحده ایالاتو سره په پوځي عملیاتو کې ښکېله شوه. دغه ښکېلتیا د شمال ترانسپورټي لارې تاسیس او پرانیستل او بیا په منځنۍ اسیا کې د ناټو ځواکونو ته د دغې سیمې پوځي اډو ته د لاسرسي زمینې برابرول وو. دغه مهال په افغانستان کې د روسیې بنیادي ګټې د افغانستان ثبات، اقتصادي پرمختګ او ستره هڅه یې له افغانستان څخه منځنۍ اسیا او بیا روسیې ته د نشه یي توکو د قاچاق مخنیوی و.

په ۲۰۰۴ ز کال کې په اوکراین کې د رامنځ ته شوو پېښو په ځانګړي ډول نارنجي انقلاب له امله د روسیې او لوېدیځ اړیکې سړې شوې، نو دې د روسیې او افغانستان پر اړیکو هم اغېز وکړ او په پایله کې په ۲۰۰۶ ز کال کې مسکو د پخواني ولسمشر حامد کرزي له حکومت سره خپل پوځي ملاتړ ته د پای ټکی کېښود.

دغه مهال د امریکا- افغان او امریکا- روسیې اړیکو خرابېدو ته جدي اړتیا وه، څو د افغان- روسیې همکاري بیا له سره پیل شي. داسې چې د ۲۰۰۸ ز کال په اپرېل کې د متحده ایالتونو د پخواني ولسمشر اوباما د ټاکنیز کمپاین یو له بنسټیزو موضوعاتو له افغانستان څخه د بهرنیو ځواکونو ویستل وو، نو د اوباما ټیم په ښکاره ډول پر کرزي او په افغانستان کې پر اداري فساد نیوکې وکړې. په پایله کې کرزي هڅه وکړه چې د متحده ایالتونو او ناټو پر ځای د خپل هېواد د بهرنیو اړیکو لیدلوری بدل کړي.

هممهاله، د ناټو له لوري ګرجستان ته په ناټو سازمان کې د غړیتوب وړاندیز او د روسیې او ګرجستان تر منځ پنځه ورځنۍ جګړې د مسکو او لوېدیځ اړیکې لاپسې سړې کړې. په پای کې په ۲۰۰۹ ز کال کې د افغان- روسیې په حکومتي کچه تماسونه د ولسمشر کرزي او ولسمشر مېډوېډوف تر منځ د خطونو له تبادلې وروسته یو ځل بیا پیل شوې.

له پورتني حالت څخه په ډاګه کېږي، چې د ولسمشر کرزي هدف لوېدیځ ته په ډاګه کول و، چې افغانستان نورې لارې هم لري، څو خپلې اړیکې پیاوړې او ملګري پیدا کړي. د ۲۰۱۴ ز کال په اوږدو کې په افغانستان کې د بهرنیو ځواکونو د شمېرې په کمېدو سره، روسیې هم لکه د ځینو ګاونډیانو او سیمې هېوادونو په څېر په افغانستان کې لېوالتیا په اوتومات ډول زیاته شوه. د سیمې په کچه د روسیې بنسټیزه لېوالتیا د منځنۍ اسیا په جمهوریتونو کې ثبات و. روسیه اوسني افغانستان ته د یو مسوولیت په سترګه ګوري، نو ځکه روسیه په افغانستان کې ګام په ګام خپل رول لوبوي. روسیه په افغانستان کې نفوذ غواړي، څو له دې لارې په منځنۍ اسیا کې خپلې امنیتي لېوالتیاوې چټکې کړي. همدارنګه روسیه د منځنۍ اسیا په ګاونډ او سوېلي اسیا کې د امریکا اوږدمهاله پوځي شتون نه شي زغملی، نو هڅه کوي چې په افغانستان کې پیاوړی مرکزي حکومت رامنځ ته شي، څو د امریکا او ناټو ځواکونو د پوځي حضور زمینه راکمه شي.

له بله اړخه، په افغانستان کې د داعش پراختیا روسیې ته زمینه برابره کړې، چې له طالبانو سره خپلې اړیکې ټینګې او لاپسې پیاوړې کړي. هر څومره چې په افغانستان کې امنیتي وضعیت خرابیږي او هېواد د سیاسي بې ثباتۍ پر لور ځي، هومره روسیې ته په منځنۍ اسیا کې د پوځي شتون او نفوذ زمینه برابرېږي.

**تیوري**

د نړیوالو اړیکو د ریالېزم تیورۍ له مخې، انسان خود غرضه او د خپل قدرت زیاتولو لېواله دی؛ له همدې امله د تاریخ په اوږدو کې د جګړو شاهدان یو، چې دولتونه هڅه کوي څو له هره اړخه خپل قدرت زیات کړي. ماکیاولي په ۱۵۳۲ ز کال کې په خپل کتاب (The Prince) کې پر دې ټینګار کوي، چې د رهبر اساسي دنده د ملي امنیت خوندي کول دي او د دې لپاره چې دغه دنده په ښه توګه تر سره کړي، باید کورنیو او بهرنیو ټولو خطرونو ته متوجه اوسي.

په ۲۰۱۴ ز کال کې له روسیې سره د کرېمیا یوځای کېدل د پیاوړې روسیې د بېرته راګرځېدو تصدیق کوي، چې دا په روسیه کې د نړیوالو اړیکو د نورو تیوریو پر باور لرونکو د ریالیستانو له سپیناوي سره مرسته کوي. د روسیې بهرنۍ پالیسي د سړې جګړې پر مهال او اوس هم د ریالېزم تیورۍ پر بنسټ ولاړه ده، چې رهبران یې د ملي ګټو پر بنسټ ګامونه پورته کوي.

په ۲۰۰۷ ز کال کې د میونیخ په کنفرانس کې د روسیې ولسمشر ولادیمیر پوتین د روسیې د بهرنۍ پالیسۍ نوی چوکاټ په ښه کړ، چې تر دې دمه د ریالېزم تیوري پر اساسي اصولو او د روسیې هېواد پر ګټو ولاړ دی. روسیې هم د سړې جګړې او هم اوسمهال په خپل بهرني سیاست کې د قدرت د موازنې میکانیزم پر مخ وړی.

**د افغانستان او روسیې پر اړیکو د مسکو- واشنګټن اړیکو سیوری**

په ۲۰۰۱ ز کال کې روسیې پر افغانستان د امریکا د برید ملاتړ وکړ؛ په پایله کې د طالبانو رژیم نسکور شو، ډېره موده وروسته د افغانستان پخواني ولسمشر حامد کرزي وویل: «افغانستان هغه مهال یوازینی ځای و، چې د مسکو او واشنګټن ګټې سره په ټکر کې نه وې».

روسیې په ۲۰۰۶ ز کال کې له افغانستان سره خپلې پوځي مرستې بندې کړې. د افغانستان- امریکا او روسیې-امریکا اندېښنو زیاتوالي د کابل او مسکو حکومتونو تر منځ لېوالتیاوو ته لاپسې زمینه برابره کړه؛ داسې چې د پخواني ولسمشر کرزي او اوباما تر منځ اړیکې ډېرې سړې شوې. د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د پخواني استازي کای ایډې (Kai Eide) په خبره، کرزي غوښتل له متحده ایالتونو غچ واخلي، هماغه وو چې د سوچي په المپیک لوبو کې یې ګډون وکړ، چې لوېدیځو هېوادونو ورسره بایکاټ کړی و، ان په ۲۰۱۴ ز کال کې کرزي له روسیې سره د کرېمیا د یوځای کېدو ملاتړ هم وکړ.

همدارنګه روسیې د ۲۰۱۰ ز کال په اوږدو کې د امریکا-روسیې اړیکو تر خرابېدو وروسته بیا هڅه وکړه، چې له طالبانو سره اړیکې ټینګې کړي. په افغانستان کې د روسیې لېوالتیا او ښکېلتیا باید د امریکا او روسیې د دوو اړخیزو اړیکو له لارې وپېژندل شي.

دری نمونې یې د توپیر وړ دي:

د سپټمبر له ۱۱مې وروسته، د روسیې له خوا د تروریزم پر وړاندې د امریکا په جګړه کې لومړنۍ همکاري؛

له ۲۰۰۵ ز کال څخه تر ۲۰۱۰ ز کال پورې په منځنۍ اسیا کې د امریکا موخو پر وړاندې د شک راپورته کېدل، چې روسیې په افغان جګړه کې د همکارۍ پر ځای د خنډونو جوړولو هڅې پیل کړې؛

له ۲۰۱۱ ز کال را پدېخوا او له ۲۰۱۴ ز کال وروسته د امنیتي تشې په اړه د روسیې د اندېښنو زیاتېدل، خو تر څنګ یې په کمه اندازه د روسیې همکاري.

د روسیې چارواکي له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو د بېړني تګ له کبله سخت اندېښمن وو، چې دا به د افغانستان او سیمې امنیت وګواښي. که د پایلې په توګه ووایو، نو روسیه له دریو غوراویو سره مخ شوه:

د ۱۹۹۰مې لسیزې پالیسۍ ته بېرته ګرځېدل او د شمال له ټلوالې ملاتړ، څو د شمال بفر زون بیا تاسیس کړي او له دې لارې د منځنۍ اسیا متحدین له یرغله خوندي کړي؛

د ملي یووالي له حکومت سره همکاري او یا هم له معتدله طالبانو سره همکاري؛

له لوېدیځو هېوادونو سره همکاري او له منځنۍ اسیا څخه د خوندي سیمې راچاپېرول.

په حقیقت کې د افغانستان پر وړاندې د روسیې له بهرني سیاست څخه په ډاګه کېږي، چې روسیه په منځنۍ اسیا او په ځانګړي ډول په افغانستان کې د خپل نفوذ پراختیا غواړي، څو د سیمه ییز قدرت په توګه خپلې او د خپلو متحدینو ګټې خوندي کړي.

روسي چارواکي پر دې باور دي، چې روسیه په افغانستان کې چندان ښه موقعیت نه لري، نو ځینې وخت فکر کوي، چې روسیه دې په افغانستان کې د بې ثباتۍ ستر خطر ومني، خو امریکا ته به دا پیغام واستوي چې روسان د امریکا فشار نه شي منلی.

**دوام لري...**

# ټرمپ ګټه کړې که تاوان؟

بي بي سي- پښتو

ډونالډ ټرمپ پرته له دې چې ځان یې د گمرکي تعرفو پوه کس ښوولی، نور څه هم کړي او که نه؟

د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ گمرکي تعرفې، د پولادو له غیر عادلانه بیې نیولې بیا د ټکنالوژۍ پر لویو شرکتونو د فرانسې له لوري تر لگېدلو مالیو د خپلو سوداگریزو شریکانو پر ضد د وسیلې په توگه کاروي.

د سوداگرۍ دا جگړه تر ټولو ډېره له چین سره جوته ده، په دې لړ کې د چین د ۵۰۰ میلیاردو ډالرو پر کلنۍ سوداگرۍ تعرفه ولگول شوه.

د نړۍ د ستر اقتصاد لرونکي هېواد د ولسمشر په توگه ټرمپ چې ځان معامله کوونکی یاDeal Maker بولي، گمرکي تعرفې په خبرو کې د فشار د یوې وسیلې په توگه کاروي.

نو آیا ولسمشر ټرمپ دا ادعا کولی شي چې په دې برخه کې یې پرمختگ کړی؟ بي بي سي د نړۍ لر او بر کې دې مسئلې ته کتنه کړې.

چین

کله چې ښاغلي ټرمپ له چین سره د سوداگریزې هوکړې خبره په لومړي ځل په ډاگه کړه، هغه یې « ډېره ستره او پراخه « هوکړه وبلله. ده پر ټوېټر ولیکل: «دا د هېواد په تاریخ کې د امریکایي بزگرانو لپاره تر ټولو ستره او لویه هوکړه ده».

روانه اونۍ دواړه خواوو دا هوکړه لاسلیک کړه، خو ځینې پر دې قانع نه وو چې دا تړون دې هغسې وي لکه چې ولسمشر ټرمپ ویلي دي. دا هوکړه د چین مرستیال صدر اعظم لیو هي او ښاغلي ټرمپ لاسلیک کړه.

خو د تازه لگول شویو تعرفو ډېره برخه پر ځای پاتې ده. امریکا به له چینه پر ۲۵ سلنه وارداتو چې ارزښت یې شاوخوا ۳۶۰ ملیارده ډالره کېږي، تازه لگول شوې تعرفې پر ځای پرېږدي او تمه کېږي چې چین هم په کال کې د څه باندې سلو میلیاردو ډالرو په ارزښت پر کلنیو وارداتو گمرکي تعرفې پر خپل ځای وساتي.

د ټرمپ اداري هم دا ومنله چې له هوکړې اصلي موخه نه ده تر لاسه شوې، نو ځکه یې هغه د هوکړې « لومړۍ برخه» ونوموله.

شمالي امریکا

په ۲۰۱۸ ز کال کې امریکا، کاناډا او مکسیکو یوه هوکړه وکړه چې له مخې به یې د یو اعشاریه یو ټریلیون ډالرو په ارزښت سوداگریزه راکړه ورکړه کېږي.

دا تړون چې د دغو هېوادونو په اړوندو پارلمانونو کې یې د تصویب بهیر ورو روان دی، د هغې هوکړې ځای نیسي چې د شمالي امریکا هېوادونو تر منځ د ازادې سوداگرۍ لپاره په ۱۹۹۴ ز کال کې لاسلیک شوې ده او ښاغلي ټرمپ « تر ټولو ناوړه « بللې وه.

که څه هم د هوکړې نوم بدل شوی، خو ډېر څه پر خپل ځای پاتې دي، البته ځینې بدلونونه د یادولو دي لکه د کاریگرو په برخه کې سختې مقررې او تر هغه هم سخت اقدامونه په یوه هېواد کې د بل هېواد لپاره د موټر د پُرزو جوړولو شر وړاندې پام کې نیول شوي دي.

خو شنونکي وایي، باید انتظار وشي چې دا شمېره مهم دي.

جاپان او شمالي کوریا

واک ته له رسېدو وروسته، د ښاغلي ټرمپ له لومړیو کارونو یو دا و چې د ارام سمندر له سوداگریزې هوکړې ووت، تمه وه چې دوولس هېوادونه دې تړون کې ورگډ شي، خو له امریکا پرته دا تړون وشو او امریکا خپل صادارت له زیان سره مخ کړل.

له هغه وروسته ولسمشر ټرمپ په آسیا کې د دوه، دوه اړخیزه هوکړو د کولو ادعا وکړه، یوه له جاپان او بله له سویلي کوریا سره. خو د کانگرېس څېړونکو ویل چې په دې هوکړو کې بدلونونو ته په کتو، نه شي ویل کېدای چې گواکې دا دې نوې هوکړې وي.

له سویلي کوریا سره په هوکړه کې د پام وړ بدلون پر هغو لاریو د تعرفو دوام دی، چې لږ بار لیږدوي. له جاپان سره په هوکړه کې بیا امریکا وکولی شوی چې دغه هېواد ته په کال کې د اووو میلیاردو ډالرو په ارزښت پر خپلو کرنیزو صادراتو گمرکي تعرفه را کمه کړي، خو دا معافیت همغومره دی څومره چې امریکا د ارام سمندر له سوداگریزې هوکړې تر لاسه کولی شو.

اروپا

د اروپا او امریکا تر منځ د سوداگریزې هوکړې کوم څرک نه لگېږي.

دواړه خواوې وروسته له هغه په تاویلو ماویلو سر شولې چې امریکا پر پولادو او المونیمو د نویو تعرفو د لگولو خبره وکړه. دا د داسې یوه گام خبره وه چې له لسو میلیاردو ډالرو زیاته سوداگریزه راکړه ورکړه یې اغېزمنولای شوی.

له هغه وروسته په اکټوبر میاشت کې له اروپا د اووو نیم میلیاردو ډالرو پر وارداتو ۲۵ سلنه تعرفې وضع شولې. په دې توکو کې د سکاټلنډ ویسکي، د فرانسې واین او د ایټالیا پنیر شامل دي.

په دې لړ کې د سوداگرۍ نړیوالې ټولنې ضمناً د ولسمشر ټرمپ دا پرېکړه تایید کړه، دې ټولنې وویل، اروپایي ټولنې د قانون خلاف الوتکې جوړوونکې کمپنۍ ایربس ته سبسایډې ورکړې ده. یا په بله وینا، دوی له ایربس سره مالي مرسته کړې ده.

برازیل او ارجنټاین

د دغو هېوادونو چارواکي وروسته له هغه هک حیران شول، چې ښاغلي ټرمپ پر ټویټر له برازیل او ارجنټاینه پر واردېدونکو پولادو او المونیمو د تعرفو د لگولو خبر ورکړ.

امریکا ته د دواړو هېوادونو د پولادو او المونیمو صادراتو گمرکي معافیت تر لاسه کړی و، خو ټرمپ وویل برازیل او ارجنټاین د خپلو پیسو ارزښت ټیټ کړی چې د ده په خبره: «د بزگرو په گټه نه دی».

تر اوسه په دې اړه تازه څه نه دي ویل شوي او دا گواښ تر دا مهاله نه دی عملي شوی. خو له ټرمپ سره له خبرو وروسته د برازیل ولسمشر وویل، داسې څه به نه پېښېږي.

# د تاوتریخوالي کمول که اوربند؛

## طالبان: یوازې د بهرنیو عسکرو د وتلو لپاره تاوتریخوالی کموو



طالبان وایي، دوی له خپل لوري د تاوتریخوالي کمولو طرحه جوړه کړې ده او اوس امریکا ته پکار ده چې دغه طرحه ومني. د طالبانو د قطر دفتر ویاند سهیل شاهین وایي، دوی یوازې د دې لپاره تاوتریخوالی کموي، چې امریکایي ځواکونه له افغانستانه ووځي. نوموړي په تازه مرکه کې ویلي چې له امریکا سره پر مهمو موارد هوکړې ته رسېدلي دي او ډېر ژر به د سولې هوکړه لاسلیک شي. بلخوا افغان سیاستوال بیا پر دې باور دي چې د تاوتریخوالي کمول له سولې سره مرسته نه شي کولی او باید اوربند وشي.

د سولې له تودو خبرونو سره هممهاله د اوربند او تاوتریخوالي کمولو موضوع هم د رسنیو سرټکی وي. په دې وروستیو ورځو کې ډېرو افغان چارواکو، سیاسیونو، طالبانو او بهرنیو هېوادونو د تاوتریخوالي کمولو او اوربند په اړه نظر څرگند کړی دی. اوس تازه په قطر کې د امریکا او طالبانو تر منځ خبرې روانې دي او د سولې هوکړې د لاسلیک پر راتلونکو اقداماتو خبرې کوي. د طالبانو ویاند سهیل شاهین تازه له یوې ایرانۍ رسنۍ سره مرکه کړې ده او په هغه کې یې ویلي چې دوی یوازې د امریکایي ځواکونو د وتلو لپاره تاوتریخوالی کموي او امریکایي لورې به هم په دې موده کې پر دوی برید نه کوي. هغه ویلي، دا د اوربند په مانا نه ده او دوی اوربند نه کوي.

شاهین ویلي، له امریکایي لوري سره پر څلورو مواردو هوکړې ته رسېدلي دي. لومړی دا چې ټول بهرني ځواکونه به له افغانستانه وځي. دویم دا چې د افغانستان له خاورې به د هېڅ هېواد پر وړاندې استفاده نه کېږي. درېیم دا چې تاوتریخوالی به کمېږي او څلورم دا چې بین الافغاني خبرې به پیلېږي. ده ټینگار کړی چې د دوی هدف له افغانستانه د امریکایي عسکرو ایستل دي. د شاهین په خبره، امریکایي عسکر افغانستان ته راغلي دي او دوی که د سولې او مذاکراتو او یا هم جگړې له لارې بهرنیان له افغانستانه وباسي، خو ښه به وي چې دا کار د مذاکراتو پر مټ وشي.

بلخوا په افغانستان کې هم دې مسئلې د افغان سیاسیونو غبرگونونه له ځان سره لرل. پخواني ولسمشر حامد کرزي ورمه ورځ ویلي وو، چې دوی د سولې ملاتړ کوي او حکومت باید د اوربند نه کېدل د سولې د راتگ په لار کې خنډ ونه گرځوي. کرزي ویلي وو چې پر اوربند به په بین الافغاني خبرو کې بحثونه وشي او طالبان باید تیار کړل شي چې اوربند ته غاړه کېږدي. ده داسې ښودلې وه چې گواکې حکومت د اوربند په پلمه غواړي د سولې د راتگ خنډ شي.

بلخوا اجرایه رییس عبدالله عبدالله هم په تازه څرگندونو کې ویلي وو، چې سوله د ټولو افغانانو هیله او ارمان دی او د یوه کس د نظر او یوه وزارت په اقداماتو دې د دې مهمې پروسې په اړه پرېکړه نه کېږي. عبدالله ټینگار کړی و، چې سوله باید انحصار نه شي او تر یوه وزارت یا د یوه کس تر فکر او نظر پورې محدوده نه شي. ده هیله څرگنده کړې وه چې ټول اړخونه په یوه خوله د سولې لپاره منظم اقدامات تر سره کړي.

بلخوا د ملي امنیت پخواني سلاکار حنیف اتمر هم تازه د سولې او اوربند په اړه خپل نظر څرگند کړی دی. نوموړي په یوه خپره کړې اعلامیه کې ویلي چې له طالبانو سره امریکا د سولې هوکړه لاسلیک کوي، نو په مقابل کې یې باید دا تظمین موجود وي چې طالبان به له افغان لوري سره هم هوکړې ته رسېږي. نوموړي د تاوتریخوالي کمول هم د اوربند او سولې یوه لار بللې وه، خو ټینگار یې کړی و چې طالبان دې بیا په بین الافغاني خبرو کې ارو مرو اوربند ته غاړه کېږدي.

د اوربند مسئله داسې مهال توده ده چې امریکایان هم له طالبانو د اوربند غوښتنه کوي، خو دغه ډله وایي چې دوی یوازې تاوتریخوالی کموي، د بهرنیو ځواکونو وتلو ته زمینه برابروي او تر هغه وروسته به په بین الافغاني خبرو کې پر سرتاسري اوربند خبرې کوي.

# د عراق پارلمان: د امریکایي ځواکونو د وتلو لپاره عملي اقدامات پیل شوي



د عراقي پارلمان د امنیتي او دفاعي چارو کمېسیون ویلي، له خپلې خاورې یې د امریکایي ځواکونو د وتلو لپاره عملي اقدامات پیل کړي دي.

د یاد کمېسیون یوه غړي علي الغانمي له بغداد الیوم سره په مرکه کې ویلي، له عراقه د امریکایي ځواکونو د وتلو پرېکړه پر خپل ځای ده او دوی په دې اړه عملي اقدامات پیل کړي دي. هغه زیاته کړې، په عراق کې د امریکایي ځواکونو حضور نور د منلو نه دی او روان میلادي کال به له دغه هېواده د ټولو بهرنیو ځواکونو د وتلو شاهدان اوسي. الغانمي ویلي، د پارلمان له پرېکړې وروسته په دغه هېواد کې د امریکایي پوځیانو د حضور هېڅ اړتیا نه لیدل کېږي او دوی په دې اړه له امریکایي لوري څخه غوښتنه کړې چې هر څومره ژر چې ممکن وي، له دغه هېواده پښې سپکې کړي. نوموړي دغه راز زیاته کړې، دوی هڅه کوي چې امریکایانو ته په سوله ییزه توگه د وتلو لار پیدا کړي او که داسې ونه شي، نو له نورو لارو چارو به گټه واخلي.

د یادونې ده چې د عراق پارلمان وروسته له هغې له دغه هېواده د امریکایي او بهرنیو پوځیانو د وتلو پرېکړه وکړه، کله چې څه موده وړاندې د ایران د سپاه پاسداران ځواک د قدس څانگې مشر قاسم سلیماني د بغداد هوایي ډگر ته نږدې د امریکا په هوایي برید کې ووژل شو. د امریکا له دغه اقدم وروسته په سیمه کې کړکېچ مخ پر ډېرېدو دی او په غبرگون کې یې ایران په عراق کې پر امریکایي اډو توغندیز بریدونه وکړل.

په ورته وخت کې د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ د عراقي پارلمان د دې پرېکړې په غبرگون کې ویلي، چې که بغداد له دې پرېکړې تېر نه شي، پر دغه هېواد به سخت بندیزونه ولگول شي. ټرمپ دغه راز ویلي چې دوی له عراقه په دې شرط وځي چې دغه هېواد د امریکا په میلیاردونو ډالرو مصارف بېرته ورکړي.

د یادونې ده چې اوسمهال په یاد هېواد کې په زرگونو کسان سړکونو ته راوتلي او په دغه هېواد کې د فساد او بېکارۍ د له منځه وړلو پر ضد شعارونه ورکوي.

## د کتـــاب خبـرې

# د رهبرۍ اخلاق

◎ لیکوال: جان مکسوېل
◎ ژباړن: میراحمد یاد

## دا قانون ولې زرین دی؟




د اخلاقو په برخه کې ځان ته څو نومرې ورکوئ؟ د صنعتي چارو ښوونکی او روحاني شخصیت الماني ویلیم جي ایچ بویټکر ویلي:((انسان باید تر بل مخکې له خپل ځان سره رښتینی اوسي، ځکه کوم انسان چې له ځان سره رښتینی نه وي، له بل سره نه شي کېدای.)) زه پر دې باور یم چې ټول خلک په لاندې پنځو ډلو ډلبندي کېدای شي:

۱) زه تل اخلاقي یم.
۲) زه زیاتره وخت اخلاقي یم.
۳) زه کله کله اخلاقي یم.
٤) زه لږ لږ اخلاقي.
۵) زه بیخي اخلاقي نه یم.

پر تاسو کومه جمله ښه عملي کېږي؟ ځان به څنګه مشخصوئ؟ یوه شېبه فکر پرې وکړئ، بیا مخکې لاړ شئ او هغه جمله په نښه کړئ چې تاسو تر ټولو ښه تشریح کوي.

**اخلاق مهم دي**

لږ فکر به مو کړی وي، اوس به ځینې نظرونه درسره شریک کړم چې خلک اخلاقو ته په کوم نظر ګوري:

۱. زیاتره خلک ځانونه په لومړۍ او دویمه ډله کې راولي، موږ زیاتره وخت هڅه کوو چې اخلاقي واوسو.

۲. زیاتره خلک د شخصي ارامۍ لپاره ځان په دویمه ډله کې راولي، ځکه شخړه نارامي وي، بې نظمي نارامي وي، بایلات نارامي وي، د بریا لپاره لوړه بیه پرې کول نارامي وي. زیاتره خلک ځکه ځانونه په دویمه ډله کې راولي، چې له دې نارامیو سره ځانونه نه مخ کوي.

۳. Recheck

٤. له خلکو سره تر زیاتره وخت اخلاقي توب نه دایمي اخلاقي توب ته راتګ راتګ او د لومړیو دوو کټګوریو ترمنځ د واټن په کمولو کې یو اصل مرسته کوي.

د دې کتاب په سریزه کې مې وویل چې ښوونکو، فیلسوفانو، دینپوهانو او قانونپوهانو د اخلاقو موضوع ډېره زیاته پېچلې کړې ده. زیاتره خلک د کارپوهانو له نظریاتو ډېر زیات اغېزمن شوي دي. د دې د ثبوت لپاره چې زه تاسو ته کومه خبره کوم، تاسو یې په اړه خپل غبرګون ته فکر وکړئ: زه باور لرم چې تاسو به د خپلو ټولو اخلاقي پرېکړو د مدیریت لپاره له یوه لارښوده کار اخیستی شئ او دا لارښود د زرین اصل پر بنسټ دی.

زه باور لرم چې تاسو به د خپلو ټولو اخلاقي پرېکړو د مدیریت لپاره له یوه لارښوده کار اخیستی شئ او دا لارښود د زرین اصل پر بنسټ دی.

تاسو ته ګپ ښکاري؟ شکمن یئ؟ زما ادعا ردوئ؟ که یې کوئ، نو ښایي تاسو د اخلاقو په اړه نوو افکارو ته ښوېبدلي یئ. زه له تاسو هیله کوم، له ماسره شئ چې په دې کتاب کې خپله ادعا درته تشریح کړم، هغه ادعا دا ده:

له ځانه دا پوښتنه کول چې زه دا حالت څنګه قابو کولای شم؟ دا د هر ډول حالت لپاره ثابته لارښوونه ده.

اوس به درته دا ووایم چې زه ولې پر زرین قانون باور لرم. خبره چې د اخلاقي لارې شي، نو تاسو پخپله د ځان لارښود کېدای شئ.

په رهبرۍ کې زما یو لارښود او استاد کاروباري سلاکار ښاغلی فریډ سمیت ټولو ته یو قانون دی. تقریبا لسیزه مخکې مو ډوډۍ خوړله، د ډوډۍ پر وخت مو پر اخلاقو خبرې کولې او پر زرین قانون هم وغږېدو. فریډ راته وویل:((د زرین قانون یوه بڼه تقریبا په هر کلتور کې شته.)) زه به تل له دې څرګندونې سره بوخت وم. د امریکا په اوسني کلتور کې هر سړی ځان ته خپل معیارونه لري او تمه کېږي چې هر حالت به خپل اخلاقي کوډ ولري. په دې حالاتو کې دا هیله بښونکې خبره ده چې د هر کلتور د اخلاقي ژوند غوښتونکي خلک پر یوه معیار هوکړې ته سره رسېدای شي. لاندې د ځینو څېړنو پایلې راغلې دي، له دې ښکاري چې زرین قانون څومره بنې لري:

عیسویت: تاسو چې له ځان سره له نورو څه تمه لرئ، له نورو سره هم هغسې وکړئ. (۲)
اسلام: تاسو تر هغې مومنان نه شئ کېدای، تر څو چې خپل ګاونډي ته څه خوښوئ، هغه ځان ته خوښ نه کړئ. (۳)
یهودیت: څه چې نه خوښوئ، له خپلو ملګرو سره یې هم مه کوئ، دا باطني اصل دی او نور هسې د خولې وینا ده. (۴)
هندوایزم: که له نورو بد نه غواړئ، نو بد مه ورسره کوئ. (۵)
زردشتي دین: څه چې پر ځان نه منئ، پر نورو یې مه کوئ. (٦)
کنفیسیوسېزم: څه چې له ځان سره نه کوئ، له نورو سره یې مه کوئ. (۷)
بهایي: که عدالت غواړئ، نو هغه ګاونډي ته یې هم وغواړئ چې تاسو یې ځان ته ترې غواړئ.
چین‌ایزم: انسان باید له نورو مخلوقاتو سره داسې چلن وکړي چې له ځان سره یې غواړي.
نایجریایي متل: که څوک مرغۍ په لښته وهي، نو لومړی دې ځان پرې ووهي چې په درد یې پوه شي.

**دوام لري...**

# فردي نظم

اکسوس کتابپلورنځی

ځینې خلک تر نورو ډېر بریالي وي؟ ځینې خلک ولې تر نورو ډېرې پیسې ګټي، خوشاله ژوند کوي او په هماغومره کلونو کې تر نورو ډېرې لاس ته راوړنې لري؟ د بریالیتوب اصلي راز څه دی؟

د کتاب لیکوال وايي، زه ډېر کله خپل سیمینار په یوه کوچني تمرین پیلوم، له ګډونوالو پوښتنه کوم: «څومره خلک غواړي چې وزن یې کم شي؟ له پورونو خلاص شي؟ او مالي خپلواکي تر لاسه کړي؟»

بیا هم ټول مسک شي، ځینې لاسونه وپرکوي او ټول لاسونه پورته کړي. زه بیا ورته ووایم: «ډېر ښه! ټول خلک ښې موخې لري، موږ ټول ډېرې پیسې غواړو، له کورنۍ سره ډېر وخت غواړو، ځان چوست او چالاک غواړو او بالاخره مالي خپلواکي غواړو».

موږ ټول نه یوازې دا شیان غواړو، بلکې پر دې هم پوهېږو چې د تر لاسه کولو لپاره یې باید یوڅه وکړو. موږ ټول دا نیت لرو چې یوه ورځ به دا کارونه کوو، خو تر پیلولو مخکې یې پرېکړه کوو چې یوه لنډه رخصتي واخلو، ښایسته ځای ته لاړ شو، دا ځای زه «یوه ورځ ټاپو» بولم.

موږ وایو چې یوه ورځ به هغه کتاب ولولم. یوه ورځ به تمرین پیل کړم. یوه ورځ به خپل مهارتونه لوړ کړم او ډېرې پیسې به وګټم. یوه ورځ به خپل مالي حالت کنټرول کړم او له پوره به خلاص شم. یوه ورځ به هغه ټول کارونه وکړم چې موخې ته د رسېدو لپاره راته اړین دي، یوه ورځ.

نږدې ۸۰ سلنه خلک په همدې «یوه ورځ ټاپو» کې پراته دي. دوی فکر کوي، خوبونهویني او د هغو شیانو په اړه خیالونه کوي چې یوه ورځ به یې کوي.

له دوی ګرد چاپېر څوک وي؟ په «یوه ورځ ټاپو» کې پراته نور خلک وي. په دې ټاپو کې د دوی د خبرو اترو موضوع څه وي؟

«پلمې» دوی ټول ګرد چاپېره ناست وي او په دې ټاپو کې د پاتې کېدو لپاره ځان ته پلمې لټوي. دوی له یو بله پوښتنه کوي: «ته ولې دلته یې؟»

د دوی ټول پلمې هم په اصل کې یو ډول وي: «زما ماشومتوب ښه نه و، ما ښې زده کړې نه دي کړې، زه پیسې نه لرم، زما رییس ډېر غوسه ناک دی، زما ګډ ژوند ښه نه دی، څوک مې قدر نه کوی، اقتصاد بیخي ډېر خراب دی».

دوی د پلمې پر ناروغۍ اخته دي. دا ناروغي سړی د بریالیتوب پر لار وژني، د دوی ټولو نیتونه ښه دي؛ خو پر دې ټول ښه پوهېږي چې یوازې ښه نیت هم په درد نه خوري.




د بریالیتوب لومړی اصل ډېر اسانه دی: «ځان د پلمو له ټاپو څخه وباسئ!» پلمې مه کوئ! یا یو کار وکړئ، یا یې بیخي مه کوئ، خو پلمې ورته مه لټوئ. خپل ښایسته ماغزه د دغو پلمو او توجیو لپاره مه کاروئ، چې تاسې دا کار ولې نه کوی، یوڅه وکړئ، هر هغه څه وکړئ چې کولای یې شی، ځان ته دا خبره تکرار کړئ چې : «که کار کوم، زه به یې کوم!»

مینه وال کولای شي دغه کتاب پر اکسوس سربېره، د ښار په نورو لویو کتابپلورنځیو کې په مناسب قېمت تر لاسه کړي.

## روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه

| شمېره | د کتاب نوم | لیکوال / ژباړن | بیه |
|---|---|---|---|
| ۱ | نن نه نو کله | محمد بشضیر جمعه/ صفیه صحاب | ۶۰ؤ |
| ۲ | مالي سیاست | دوست محمد احمدزی | ۱۸۰ؤ |
| ۳ | مالي حقوق | نورالله نوري مجددي | ۲۰۰ؤ |
| ٤ | سیاسي اصطلاحات | میهن وطن دوست | ۱۰۰ؤ |
| ۵ | اداره او مدیریت | عنایت الله فضلی | ۱۰۰ؤ |
| ٦ | عامه اداره | بی ال فیدیا او کالدیپ فیدیا/محمد بشیر دودیال | ۲۳۰ؤ |
| ۷ | درمسال له ختېې | جمعه خان صوفی | ۶۰۰ؤ |
| ۸ | لیکوالي (املاء او انشاء) | ګل پاچا الفت | ۱۰۰ؤ |
| ۹ | بریالی ژوند | علي رضا شجاعي یګانه/محمد اکبر نیازی | ۱۵۰ؤ |
| ۱۰ | د بشري شرچینو مدیریت | عبداللطیف رحماني او حشمت الله ناصري/ محمد بشیر دودیال | ۱۵۰ؤ |
| ۱۱ | اوبه خلک | اجمل ښکلی | ۶۰ؤ |
| ۱۲ | د مدیریت بنسټونه او اصول | عبداللطیف رحماني/محمد بشیر دودیال | ۲۰۰ؤ |
| ۱۳ | ریاضیات د سوالونو بانک | شیر احمد هجران | ۲۰۰ؤ |
| ١٤ | مه خپه کیږه | عایض القرنی /فرید احمد هلال | ۲۷۰ؤ |
| ۱۵ | د ریاض تسنیم کلیات | ریاض تنسیم | ۲۵۰ؤ |
| ۱٦ | زه په چاک پروت یم | ممتاز اورکزی | ۳۳۰ؤ |
| ۱۷ | زما ژوند او جدو جهد | عبدالغفار خان | ۲۰۰ؤ |
| ۱۸ | د ماکرو اقتصاد بنسټونه | احسان الله سعید | ۲۰۰ؤ |
| ۱۹ | سیاسی جغرافیه | کریم الله بیدار او هجرت الله اختیار | ۱۵۰ؤ |
| ۲۰ | ادبستان | اجمل ښکلی | ۲۷۰ؤ |
| ۲۱ | عمومي کیمیا | خیر محمد ماموند | ۲۳۰ؤ |
| ۲۲ | فزیک د مسایلو حل | بشیر الله صافی | ۱٦۰ؤ |
| ۲۳ | بانکداري | سید مسعود/سیداود صمیم | ۲۰۰ؤ |
| ۲٤ | مالیکولي فزیک | احسان الله ثاقب | ۱۷۰ؤ |
| ۲۵ | حساب او د محاسبې اصول | احسان الحق یار | ۱۰۰ؤ |
| ۲٦ | د اقتصادي پرمختیا تیوري | ذاکر الله ذکي | ۲۰۰ؤ |
| ۲۷ | عمومي‌فزیک | شېر زمان حمیدي | ۳۰۰ؤ |
| ۲۸ | اقتصادي اصطلاحات | عبدالله عادل او امان الله ورین | ۲۸۰ؤ |
| ۲۹ | ارسطو نه تر ایلیټ پورې | جمیل جالبي/ نورالامین یوسفزی | ۱۳۰ؤ |
| ۳۰ | فردي نظم (د اوږد مهاله بریا او خوښۍ ترلاسه کولو لارې چارې) | برایان ټریسي | ۲۳۰ؤ |

**په خپل کور او کار ځای کې د کتابونو د تر لاسه کولو لپاره له لاندې شمېرو سره اړیکه ونیسئ**

پته: دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ    اړیکه: 9696-98-0798 - 0202504652

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷,۱۰ |
| € | ۸۵,۴۰ |
| Rp. | ۴۸۷ |
| ₹ | ۱۰۸۰ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۹۹,۵۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بیړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالۍ زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

همیانی

# له دېرش کلنۍ وړاندې؛ دغو ۱۳ ټکو ته پام وکړئ!

ژباړه: نسیمه محمدي

موږ تر ډېره پر هغو چارو فکر کوو، چې که له مرګه مخکې یې تر سره نه کړو، پښېمانه به یو. ډېر دا ډول کارونه د افرادو تر منځ مشترک دي. د ژوند پروګرام مو داسې جوړ کړئ چې دغو ۱۵ ټکو ته چې باید له دېرش کلنۍ وړاندې تر سره شي، پام وکړئ.

**۱- لوړې زده کړې وکړئ**

پوهنتون ته تلل لګښت غواړي، خو دا لګښت وروسته په هغه ګټه ارزي چې تر لاسه کوی یې. په پوهنتون کې له نویو خلکو سره وینی، هغه خلک چې علمي سطحه یې په راتلونکې کې ستاسې پر دنده اغېز لري، نو غوره ده چې د ځوانۍ په وخت مو ژوند ته راشي. البته باید ووایو که له دېرش کلنۍ تېر شوي یاست او د زده کړو لېوالتیا لری، ډېره ښه ده، خو موږ دلته د هغوی په اړه چې لا دېرش کلن نه دي، غږېږو، ځکه ځوانان د پوهنتون د دوران لوړو او ژورو ته له ډېرې انرژۍ او انګېزې برخمن دي.

**۲- (ډاکټر هو) سریال وګورئ**

ډاکټر هو سریال د نړۍ یو له تخیلي او علمي سریالونو څخه دی، چې ۲٦ کاله له بي بي سي څخه خپور شو (۱۹٦۳-۱۹۸۹). دا سریال د ژوند په مثبت اړخ کې ستاسې لیدلوري ته بدلون ورکوي. ډاکټر هو د هغوی لپاره چې د ځوانۍ په پړاو کې دي، سپارښتنه کوي، ځکه ځوانان په دې پړاو کې اغېز منونکي وي. څرنګه چې دا سریال ډېر اوږد دی که له ځوانۍ څخه یې لیدل پیل کړی، تر منځني عمره به له تاسې سره وي. نو وړاندې له دې چې ناوخته شي، پیل یې کړئ.

**۳- ورزش وکړئ**

هغوی چې په منځني عمر کې ښکلی اندام لري، له ځوانۍ څخه یې پر خپل هیکل کار کړی. نو د ۲۰ - ۳۰ کلنۍ تر منځ لاس پکار شئ. هره ورځ ۴۵ دقیقې ورزش وکړئ. دا کوم سخت کار نه دی، تر بلدېدو وروسته که یوه ورځ ورزش پرېږدی، خپل مړاویتوب به درته څرګند شي. په ګټو یې تاسې هم ښه پوهېږی.

**۴- له کمپیوټري لوبو (ګېمونو) خوند واخلئ**

که د اوس وخت ځوانان یئ، له شک پرته د کمپیوټري لوبو مزه مو څکلې. څومره به ښه وي چې خلک د کمپیوټري لوبو لپاره یو څه وخت ځانګړی کړي. دا لوبې تاسې له نوې ټکنالوژۍ سره آشنا کوي. همدارنګه مرسته کوي چې د څه وخت لپاره د تخیلي کیسو په نړۍ کې له ذهني کشمکشه لرې تېر کړی. نو د دې پېر په زړه پورې اختراعګانې له پامه مه غورځوئ. له دغو ټولو سره سره باید پوه شی، چې اعتدال باید مراعات کړئ.

**۵- تاریخ ولولئ**

دا به ډېر د شرم وړ وي چې په ډېرو برخو کې چا زده کړې کړې وي، خو له تاریخه ناخبره وي. کله چې په یوه مجلس کې د تاریخي پېښو خبره کېږي، زیاتره حوالې ناسمې او نامستندې وي. تاسې ته لارښوونه کوو چې له ځوانۍ ځان د تاریخي کتابونو له مطالعې سره عادت کړئ، کله چې مو عمر ډېر شي، نو دقیق او سم معلومات به په دې برخه کې ولرې. د خپل او نورو هېوادونو پر تاریخ تر پوهېدو وروسته د هغوی لاسنیوی وکړئ، چې بېځایه د پوهېدو اظهار کوي.

**٦- ځیرک موبایل وپېرئ**

که غواړې د نړۍ له هر څه باخبره اوسی، نو ځیرک موبایل وپېرئ. د دې په وسیله کولای شی د بېلابېلو ټولنیزو شبکو غړي شی او له هغوی سره چې ترې لرې یاست، اړیکه ونیسی. پر دې سربېره، له ځیرک موبایل څخه پر سالمې ګټې اخېستنې ټینګار کوو. خلاقیت مو لوړېږي. نو که تر اوسه پخوانی ټلېفون کاروی، نو ژر تر ژره له دېرش کلنۍ وړاندې د هر مُډل او هرې بیې ځیرک موبایل وپېرئ.

**۷- خپل شخصي کمپیوټر په خپله جوړ کړای شئ**

باید پوه شو چې کمپیوټر له کومو ټوټو جوړ او څنګه کار کوي. اړتیا نشته چې د یو کارپوه یا لیکوال په اندازه معلومات ولری. همدومره چې پوه شی د بېلابېلو برخو جوړوالې وڅېړئ. یانې د یوې کوچنۍ ستونزې لپاره اړ نه اوسی چې مستري ته لاړ شی او څومره ښه ده چې له دېرش کلنۍ وړاندې دا مهارت زده کړی. موږ په داسې یوه زمانه کې ژوند کوو، چې د همدې کوچنیو څیزونو پوهېدل کولای شي له بېځایه لګښتونو څخه مخنیوی وکړي.

**۸- ښه ویشتل زده کړئ**

وسله په لاس کې اخیستل ټوکې نه دي او زموږ هدف هم دا نه دی چې وسله واخلئ او خلک ووژنئ، بلکې دا وایو چې د ښې ویشتلو په یوه ورزشي کلب کې نوملیکنه وکړئ چې له دې ورزشي رشتې څخه زده کړئ، چې وسله یوه پیاوړې دفاعي وسیله ده او که ناخبره او د جرم تر سره کولو لپاره وکارول شي، نه جبرانېدونکي زیانونه به ولري.

**۹- نږدې او خواږه ملګري پیدا کړئ**

په ژوند کې لږ تر لږه دوو- دریو ملګرو ته اړتیا لرو. څه ښه ده چې ډېر ملګري ولرو، خو کېدای شي د یوه ښه ملګري لرل هم زموږ نړۍ ته داسې بدلون ورکړي، چې د ډېرو ملګرو له لرلو بې نیازه شو. دا ډول ملګري زیاتره د ځوانۍ په دوره کې موندل کېږي او د عمر تر پایه دوام کوي.

**۱۰- کیسه ولیکئ**

زیاتره خلک له لیکلو کرکه لري، خو غوره ده، څو چې ځوان یاست او نوښتګر ذهن لری، حد اقل یو ځل لیکوالي تجربه کړئ. کیسه لیکل نه یوازې یوه بوختیا ده، بلکې د لیکوالۍ مهارتونو ته مو وده ورکوي، هغه مهارتونه چې دا وخت له پامه غورځول کېږي. یو ځل قلم په لاس کې واخلئ او د خپلو افکارو څو کرښې د کاغذ پر مخ ولیکئ، وبه ګورئ چې د دې فعالیت دوامداره تر سره کول د لیکوالۍ په مهارت کې معجزه کوي.

**۱۱- د خیالونو انځورګري مو وکړئ**

ډېری وختونه د لویانو له خوا د خیال او راتلونکې ته د هیلو په اړه له غبرګون سره مخ شوي یئ. خو پوه شی هر خیال او هیله په زیار او هڅه تر لاسه کېدونکې ده. موږ یو ځل د ژوند کولو چانس لرو، نو راځئ دا فرصت په ټنبلۍ او سستۍ له لاسه ورنه کړو او د خپلو هیلو لپاره چې مونږ، شاوخوا وګړو او په ټوله کې ټولنې ته ګټه رسوي، هڅه وکړو.

**۱۲- د راکي له فلمه زده کړه وکړئ**

په لوړ ګومان د راکي فلم نوم به مو اورېدلی وي، موږ هم وایو د دې فلم اصلي نسخه پیدا او وګورئ. دا فلم د یوه بېوزله ایټالیایي بوکسر کیسه ده، چې ویې غوښتل ځان ټولې نړۍ ته ثابت کړي، هغه کار چې هېچا یې تصور هم نه کاوه. د ځوانانو لپاره د دې فلم کتل کولای شي هڅوونکي اوسي او هغوی ته ور زده کړي، چې بېوزله انسانان هم د پرمختګ چانس لري، خو یوازې که انسان اراده وکړي او پر ځان باور ولري.

**۱۳- مدیریت وکړئ**

زیاتره خلک له دې چې د یوې ډلې مشر وي، شرمېږي یا هم وېره لري؛ خو که د پوهنتون او زده کړو په جریان کې د یوې ډلې د رهبرۍ چانس تر لاسه کوی، له دې فرصته اعظمي ګټه واخلئ او مدیریتي مهارتونه مو امتحان کړئ. رهبري مرسته کوي چې په خپلواک ډول فکر وکړی او مسوولیت منونکي اوسئ.

## د روغتیا څار بنسټ: د ۱۳۹۹ مالي کال په بودجه کې اړینې اړتیاوې په پام کې نه دي نیول شوې

د روغتیا څار بنسټ ویلي، د ۱۳۹۹ مالي کال په بودجه کې د خلکو اړینې اړتیاوې په پام کې نه دي نیول شوې، د خلکو ونډه پکې کمه ده او اوسني حکومت د پخواني په پرتله ۱۵۰ میلیارده پراختیایي بودجه زیاته لګولې ده.

دغه راز څېړنې ښیي چې د ملي یووالي حکومت ۵۴ میلیارده افغانۍ او پخواني حکومت په ورته موده کې ۳۷ میلیارده افغانۍ د اختیاري ځانګړو کوډونو له مخې مصرف کړې، خو حکومت په دې کې پاتې راغلی چې د عامه لګښتونو له قانون پیروي وکړي او د یاد قانون له احکامو سره سم د اختیاري کوډونو برخه له ۳ سلنه ټیټه وساتي.

د دغه بنسټ د عدالت غوښتنې او اړیکو مسوول محمد ناصر تیموري په کابل کې خبریالانو ته ویلي، دغه پایلې ښیي چې په ۱۳۹۴ لمریز کال کې د بودجې په جوړولو کې د خلکو ونډه ۲۷ سلنه وه، خو په ۱۳۹٦ لمریز کال کې ۱۵ سلنې ته راټیټه شوې ده.

هغه د جزیاتو له ورکولو پرته زیاته کړې چې د ۱۳۹۹ مالي کال بودجې د سروې په لومړنیو پایلو کې بیا هم د پام وړ نومرې نه دي اخیستې.

د یاد بنسټ یوه څېړونکي ابراهیم خان جبارخېل دغې ناستې ته ویلي: «سره له دې چې د مالیې وزارت په ځینو ولایتونو کې مشورتي ناستې تر سره کړې، مګر هېڅ داسې شواهد شتون نه لري چې وښیي د خلکو نظریاتو ته په بودجه کې ځای ورکړل شوی دی».

تیموري دغه راز ویلي چې د ۱۳۹۹ مالي کال په بودجه کې د خلکو بنسټیزې او اړینې اړتیاوې ډېرې په پام کې نه دي نیول شوې. هغه زیاته کړې: «د خلکو بنسټیزې اړتیاوې د ملي بودجې په څنډه کې واقع شوې، سره له دې چې د روغتیا او پوهنې برخې په زړه بوږنوونکي حالت کې دي، خو بیا هم ورته د ساتنې او خوندیتوب لپاره مناسبه بودجه نه ده ځانګړې شوې».

په ورته وخت کې د مالیې وزارت ویاند شمروز خان مسجدي په دې اړه ویلي چې د افغانستان نیمایي بودجه د نړیوالې ټولنې له خوا تمویلېږي او نیمایي نوره د حکومت او ملي شورا د لومړیتوبونو له مخې په پام کې نیول کېږي، چې په اصل کې دا ټولې پروژې د خلکو لپاره تر سره کېږي.

تیموري ویلي، د ملي یووالي حکومت د ۱۳۹۷ لمریز کال په پسرلي کې ژمنه کړې وه چې د دوو کلونو په اوږدو کې به د شپږو زرو ښوونځیو لپاره ودانۍ جوړوي، خو یاد بنسټ موندلې چې له دغو ښوونځیو یوازې ۱۳.۳ سلنه ته ودانۍ جوړې شوې دي.

خو د کلیو او پراختیا وزارت ویاند فریدون اژند ویلي چې د دغه وزارت له لوري په اټکل شوې موده کې تمه وه چې پورتنې ښوونځي جوړ کړي، خو د نړیوال بانک له خوا دې وزارت ته د اړتیا وړ پیسې ور نه کړل شوې.

## سولې وزارت: د سولې د میکانېزم په اړه لاهم په کور د ننه اختلافونه شته

اوربند او د تاوتریخوالي کموالی هغه دوه اختلافي مسایل دي چې د سولې په پروسه کې یې حتی په افغانستان کې د ننه هم په اړه یوه واحده اجماع نشته او په لویه کچه یې غبرګونونه راپارولي دي. افغان حکومت پر اوربند ټینګار کوي، طالبانو ویلي تاوتریخوالی به راکم کړي، خو د اجرایه ریاست په ګډون ځینې افغان سیاسیون بیا د اوس لپاره د تاوتریخوالي د کموالي غوښتونکي دي.

خو د سولې په چارو کې د دولت وزارت ویلي چې د سولې په اړه ملي اجماع شته، خو د میکانېزم په اړه یې لاهم اختلافونه له منځه نه دي تللي.

د دغه وزارت ویاندې ناجیې انوري ازادي راډیو ته ویلي: «د سولې په برخه کې ملي اجماع موجوده ده، حتی په سیمه او نړۍ کې ټول اړخونه سوله غواړي او په افغانستان کې د سولې غوښتونکي دي، خو دا چې میکانېزم یې کوم ډول وي، په دې باندې هم موږ کار کوو چې ټول هغه اړخونه چې په دې پروسه کې ښکېل دي، د هغوی نظریات واخلو او د دوی اجماع پرې رامنځ ته کړو، ترڅو دا یوه بریالۍ پروسه وي».

بلخوا د ملي یووالي حکومت اجرایه ریاست ویلي، که طالبان د تاوتریخوالي له کمولو سره هوکړه وکړي، دا بین‌الافغاني خبرو ته زمینه برابرولی شي، خو په خبره یې باید د تاوتریخوالي د کمولو معیارونه مشخص شي، څو خلکو ته زیان وانه وړي.

دا په داسې حال کې ده چې تر دې وړاندې د ولسمشرۍ ماڼۍ ویاند صدیق صدیقي ویلي وو چې د سولې ټینګښت په افغانستان کې د جګړې د پای ته رسېدو په مانا دی او د سولې د خبرو لپاره اساسي طرحه هم د اوربند ټینګښت دی.

په ورته وخت کې د افغانستان د ملي امنیت پخوانی سلاکار محمد حنیف اتمر هم د سولې په اړه په کور د ننه د اجماع د نه موجودیت خبره کوي.

اتمر له ازادي راډیو سره په یوه ځانګړې مرکه کې زیاته کړې: «په اوسني حالت کې د سولې لپاره په ملي کچه اجماع نه لرو، په دې خاطر چې له بده مرغه پر ټاکنو او پر هغو سیاسي خبرو چې پر ټاکنو وي، له امله یې دلته اجماع ماته شوې ده او اوس یې بېرته رغول یو ګران کار شوی دی».

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**ایډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** اېمل خان، نذیر احمد سهار
او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

# Maseer Daily
New Vision, New Journey

چهارشنبه د ۱۳۹۸ د سلواغې دویمه | د ۲۰۲۰ د جنوري ۲۲مه | ۵۰۱مه ګڼه

www.Maseerdaily.af  twitter/MaseerDaily  Facebook/MaseerDaily







| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲ | ۹ | ۱۲ | ٦ | ١٤ | ١١ |
| -۱۱ | ۲ | ۰ | -۱ | ۲ | -۲ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۳۱ | لمر ختل ۰٦:۵۸ | ماسپښین ۱۲:۰۵ | مازیګر ۰۲:۵۲ | ماښام ۰۵:۱۲ | ماخوستن ۰٦:٤۰

## نړۍ




## کمیسیون حقوق بشر:
# در حمله هوایی نیروهای خارجی در هرات ۱۵ فرد ملکی کشته و زخمی شده اند



کمیسیون مستقل حقوق بشر افغانستان اعلام کرد که در حمله هوایی نیروهای امریکایی در هجدهم جدی در ولسوالی شیندند ولایت هرات، ۱۵ فرد ملکی کشته و زخمی شده اند.

این در حالی ست که تورپالی طاهری معاون شورای ولایتی هرات، پس از وقوع این رویداد گفته بود که این حمله بر قرارگاه ملانګیالی نیکزاد قوماندان مخالف مسلح دولت انجام شده و در آن ٦۰ تن کشته و ۳۸ تن دیگر زخمی شده اند.

او گفته بود: «در این جمله ۵۰ تن از افراد ملکی اند و متباقی افراد نظامی؛ و از جمله ۳۸ نفر زخمی این رویداد، ۲۵ نفر آن افراد ملکی می باشند».

همچنان به اساس برخی گزارش ها افراد ملا رسول (گروه انشعابی طالبان) نیز شامل کشته و زخمی شده های این رویداد می باشند.

اما کمیسیون مستقل حقوق بشر، با نشر خبرنامه ای گفته است که بر اثر حمله هوایی نیروهای خارجی بر قرارگاه نیروهای طالبان در منطقه پایکش ولسوالی شیندند، پانزده تن از افراد ملکی کشته و زخمی شده اند که سه کودک و سه زن در میان کشته شده گان و دو کودک در میان زخمیان این حمله قرار دارند.

منبع نوشته است: «بر بنیاد اهداف و اصول حقوق بین‌الملل بشردوستانه و قوانین کشوری، آسیب رساندن به مردم ملکی ممنوع است. بنابراین، طرف های درگیر در عملیات خود باید به گونه جدی حفاظت از جان و مال افراد ملکی را در نظر داشته باشند».

## راپورونه: په پاکستان کې د سختو واورو او یخنۍ له کبله نږدې ۱۰۰ تنه مړه شوي



پاکستانیو چارواکو ویلي چې له تېرو څو ورځو راهیسې د دغه هېواد په ځینو برخو کې سختو واورو او یخنۍ لږ تر لږه ۱۰۰ تنه مړه کړي دي. د راپورنو له مخې، ډېری کسان د پاکستان تر واک لاندې کشمیر کې تر واورو لاندې شوي او مړه شوي دي. د پاکستان د کړکېچ د مخنیوي ملي ادارې ویلي چې یوازې ۷٦ کسان د کشمیر د نیلیم په دره کې مړه شوي دي. د دغې ادارې په یوه اعلامیې کې ویل شوي چې واورو د پاکستان په ځینو نورو برخو کې هم شاوخوا ۲۴ تنه مړه کړي دي. د چارواکو په خبره، نږدې ۹۴ نور کسان ژوبل شوي او په کشمیر کې ښایي د تلفاتو شمېر لا زیات شي.

د سرچینې په خبره، په مړو او ټپیانو کې ښځې او ماشومان هم شامل دي چې ډېری یې تر واورو لاندې شوي. دغه راز ویل کېږي چې د واورو ښویېدو په پېښو کې لسګونه کورونه هم زیانمن شوي دي. بلخوا د فرانسې خبري اژانس ویلي چې د پاکستان لومړی وزیر عمران خان د کشمیر په مرکز مظفر اباد کې په روغتون کې د ځینو ټپیانو لیدو ته هم ورغلی دی. په ورته وخت کې د پاکستان د هوا پېژندنې ادارې ویلي چې ښایي هوا نوره هم یخه او واورې نورې هم زیاتې شي. د راپورونو له مخې، د پاکستان تر واک لاندې کشمیر کې ښوونځي تړل شوي او ډېرې لویې لارې هم بندې دي.

## راپورونه: د روسیې په تومسک سیمه کې د اورلګېدنې له کبله ۱۴ کسان وژل شوي

د راپورونو له مخې، د روسیې د سایبریا په تومسک سیمه کې په یوه کور کې د اورلګېدنې له امله ۱۱ کسان وژل شوي او دوه نور ټپیان دي.

په سایبریا کې د بېړنیو خدماتو وزارت ویلي چې اور د لرګیو په یو کور کې د شپې لګېدلی او په لنډ وخت کې لمبې تقریباً ۲۸۰ متر مربع سیمې ته خپرې شوې وې.

چارواکو ویلي چې د اورلګېدو له امله کور پر هغو کسانو چې هلته اوسېدل، رانړېدلی او مرګ ژوبله یې پېښه کړې ده.

سیمه ییزو چارواکو دغه راز زیاته کړې چې یاد کور یوې چینایي کمپنۍ کرایه کړی و او د چین، تاجکستان او ازبکستان ۱۴ اتباع پکې اوسېدل.

د سیمې پولیسو یوه مشر میخایل انوتوف له رسنیو سره په خبرو کې ویلي، چې د پېښې د څرنګوالي په تړاو یې پلټنې پیل کړې دي. په ورته وخت کې په نووسیبیرسک کې د ازبکستان کونسلګرۍ د روسیې تاس خبري اژانس ته ویلي، چې هغه ۱۱ تنه چې وژل شوي، د ازبکستان اتباع دي.

د یادونې ده چې د روسیې په سایبریا سیمه کې هر کال د طبیعي پېښو او اورلګېدنې له کبله ډېرو کسانو ته مرګ ژوبله اوړي چې ډېرې یې پکې د اورلګېدنې پېښې دي.

## ژوند

## د صبر مېوه خوږه وي




که مو ژوند له خوښۍ سره سم هم نه وي روان، هڅه وکړئ چې خپلو موخو ته د رسېدو شوق او زوق له لاسه ورنه کړی او تل په دې هڅه کې وی، چې تاسې باید خپلو موخو ته ورسېږی. که په ژوند کې بې انګېزې پاتې شوي یاستی، نو فکر وکړئ چې د ژوند له ټولو خوندونو بې برخې شوي یی. پر ځان باور له لاسه مه ورکوئ، همدا چې تاسې تل په هڅه کې یاستی، موخو ته د رسېدو لپاره به مو کرلی تخم په صبر او حوصلې سره شین شي او حاصل به کوي. هڅه وکړئ چې د ناستې ولاړې لپاره درته داسې ملګري وټاکی، چې د ژوند تر پایه د یوه ملګري او راز ساتونکي کس په توګه در سره پاتې شي، په ژوند کې کورنۍ، دوستانو او ملګرو ته هم وخت ځانګړی کړئ. که په خپل ژوند کې دې ډلې کسانو ته ځای او وخت ورنه کړی، پوه شی چې د ژوند اصلي خوند به هېڅکله هم ونه څکی. تاسې یوازې یو وجود لری او بس، د هغه پر قدر ځان پوه کړئ. کله چې ستاسې روغتیا له ګواښ سره مخ شي، هغه وخت بیا هېڅ هم نه شی تر سره کولای.

## د مور اروايي ناروغۍ اولاد ته انتقالېږي؟



د مغزي پوهې ژورنال کې خپره شوې تازه څېړنه کاږي، چې که میندې د ډیپریشن یا ژور خفګان پر ناروغۍ اخته وي، اولادونه به یې هم له همدې ناروغۍ ځورېږي. څېړنه وایي چې له مورانو دا ناروغۍ لورګانو ته تر زامنو ژر انتقالېږي او له پلار څخه بیا اولادونو ته یو ډول انتقالیږي. دا څېړنه په امریکا کې په ۳۵ کورنیو تر سره شوې، چې پکې د هغوی مغزي جوړښت تر تحقیق لاندې نیول شوی. څېړنه کې راغلي چې د انسان د مغز یوه برخه چې Corticolimbic System په نوم یادېږي، احساسات او خواص کنټرولوي. د څېړنې په باور، دا ټول احساسات له والدینو څخه اولادونو ته انتقالیږي. څېړنه زیاتوي چې که یوه مور پر ډیپریشن اخته وي، تر زوی یې لور ژر پر ورته ناروغۍ اخته کیږي. د کلیفورنیا پوهنتون استاد ډاکتر فمیوکو هویفټ Fumiko Hoeft چې د څېړنې مشري کوي، ویلي چې د ډیپریشن نور لاملونه هم شته او یوازې ارثي نه دي. نوموړی پر وراثت سربېره، چاپېریال او د انسان د ژوند تجربې هم د ډیپریشن یا ژور خفګان لاملونه وبلل. هغه وایي، دا لومړی ځل دی چې د ډیپریش یا ژور خفګان یو بل عامل چې (وراثت) دی، په ډاګه کیږي.


